سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۵/۳۰

# څــــه غـواړي؟

عـقلـه! ته پوهیږی، چی جانان له څه غواړی؟
دا زمونږد سرپاسـه، ایینـی اسـمان څـه غـواړی؟

مـیـنـه خـو پـرون ده لا وتلي، له دی زړونــو نــه
نورنو له دی زړونو، نوی نوی ارمان څه غواړی؟

کورخو د خاورین انسان، د اور شیطان نیولی دی
داحاکم شیطان، له دی محکومه انسان څه غواړی؟

سوي تول ګلان دی، تول باغونه ایره شویدی
سوو ګلکـڅو، تورو ایرو نه بـاران څه غـواړی؟

دار تـه پـورته کړي، لیونـو خـو هـوښیارا پخوا
دی لیـونی کلی نه، لا نـور لیـونیان څه غواړی؟

اوس چی عقل هم، د جهالت زورته تسلیم ښکاری
دی خـالی سـرو نه، دا دقهر دیـوان څه غواړی؟

زه بل انقلاب ته، حوصـلـه په چا کی نه ګورم
د دافراطیت د مـدرسو، شـاګردان څه غواړی؟

څوکرت چور شـوی، کلیواله دی صحرا کی دی
بیاچی راروان دی، دا بی سترګو کاروان څه غواړی؟

څه غواړی
kliwal_s_tshe_ghoaley.pdf